د لوړو زده کړو وزارت

لوګـــــر پوهنتـــــون

علمي او محصلانو چارو معاونیت

د دعوت او ارشاد او شکایتونو اورېدلو عمومي کمېټه

# د اخلاقي چلند، انصاف او عدالت کړنلاره

کال: ۱۴۴۷هـ ق / ۱۴۰۵هـ ش

تم المسح الضوئي بـ CamScanner

## د موضوعاتو لیکلړ

سریزه ........................................................................... ۱
د انصاف او عدالت کړنلارې اهمیت ............................................ ۱
د انصاف او عدالت کړنلارې موخې................................................ ۱
د کړنلارې د تطبیق ساحه ........................................................ ۲
د کړنلارې اساسي اصول ........................................................... ۲
د انصاف او عدالت په برخه کې د لوګر پوهنتون تګلارې......................... ۲
۱- د بستونو د توزیع تګلاره ........................................................ ۲
الف- د علمي کادري بستونو توزیع:.............................................. ۲
ب- د اداري او خدماتي بستونو توزیع.............................................. ۲
۲- د جذب د پروسې تګلاره ........................................................ ۳
الف- د استادانو جذب............................................................. ۳
ب- د اداري کارمندانو جذب ...................................................... ۳
ج- د خدماتي کارمندانو جذب ..................................................... ۳
۳- د درسي ساعتونو د ویش تګلاره ................................................ ۳
۴- د لنډو او اوږدمهاله بورسونو د توزیع تګلاره..................................... ۳
سمینارونو او ورکشاپونو ته ورپیژندنه ............................................... ۳
۵ـ د ازموینو د روڼتیا تګلاره........................................................ ۴
الف- منځنۍ ازموینه ............................................................... ۴
ب- وروستنۍ ازموینه................................................................ ۴
۶ـ د علمي ازادیو تګلاره............................................................. ۴
۷ـ د ټولنیزو اخلاقو د رعایت تګلاره ............................................... ۵
۸ـ د شکایتونو د ارزونې تګلاره .................................................... ۵
۹- د استادانو، کارمندانو او محصلانو د حاضرۍ تګلاره ........................... ۵



تم المسح الضوئي بـ CamScanner

ب- د اداري کارمندانو حاضري: ........................................................ ۵
ج- د محصلانو حاضري .................................................................. ۵
۱۰ـ د تدارکاتو تګلاره .................................................................. ۵
۱۱ـ د علمي کادر د غړيو د ترفيعاتو تګلاره ............................................. ۶
۱۲ـ د مجازاتو او مکافاتو تګلاره ........................................................ ۶



تم المسح الضوئي بـ CamScanner

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**سریزه**

**الحمدُ للهِ الّذِي أَمَرَ بالْعَدْلِ والإِحْسَانِ، والصَّلَوٰةُ وَالسَّلَامُ عَلَى سَيِّدِ الأَنَامِ، وعَلَى آلِهِ وَصَحْبِهِ ذَوِي الْفَضْلِ وَالإِنْعَامِ، اما بعد:**

انصاف او عدالت په اسلامي شریعت کې یو له مهمو بنسټيزو اصولو څخه دي چې الله جل جلاله يې د ټينګښت په اړه فرمايي: ﴿إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُ بِٱلۡعَدۡلِ وَٱلۡإِحۡسَٰنِ﴾ [سورةالنحل: ۹۰آيت]

ژباړه: بې‌شکه الله جل جلاله په عدل او احسان سره امر کوي. په ټولنه کې د انصاف او عدالت تطبيق د ټولنيز نظم، د انساني کرامت د ساتنې او د دوامداره پرمختګ ضامن دی، همدا ډول په عدل او انصاف باندې پرېکړې کول، د اسلامي نظام يو مهمه ځانګړنه ده، لکه څرنګه چې الله جل جلاله پرې امر کړی او فرمايي: ﴿وَإِذَا حَكَمۡتُم بَيۡنَ ٱلنَّاسِ أَن تَحۡكُمُواْ بِٱلۡعَدۡلِۚ﴾ [سورة النساء: ۵۸آيت]

ژباړه: او (الله جل جلاله تاسو ته امر کوي) چې کله د خلکو ترمنځ فيصله کوئ نو په عدل سره يې کوئ!.

بناءً پوهنتون چې د اسلامي نظام د علمي او تحقيقي چارو د ترسره کولو دنده په غاړه لري او اسلامي ټولنې ته په مختلفو برخو کې د خدمت کولو په پار ځوانان روزي، بايد د خپل اړوند محيط لپاره د عدل او انصاف يوه روښانه تګلاره ولري، ترڅو پوهنتون ته د منسوبو اشخاصو ترمنځ اړيکې د اسلامي اخوت، عدل او انصاف په رڼا کې پرمخ لاړې شي.

په همدې موخه لوګر پوهنتون د انصاف او عدالت په برخه کې دغه کړنلاره ترتيب کړې ده، ترڅو د استادانو، محصلينو او اداري کارمندانو ترمنځ د اعتماد فضا رامنځته شي او د دوی ترمنځ د بې باوريو، شکونو او شبهو مخه ونيول شي او په اخلاص سره ورځنۍ چارې په منظم ډول پرمخ يوسي.

**د انصاف او عدالت کړنلارې ارزښت**

- د انصاف او عدالت د يوې منظمې کړنلارې له لارې د استادانو، اداري کارمندانو او محصلانو ترمنځ اعتماد او باور رامنځته کېږي؛
- د قومي، ژبني او شخصي سليقو پربنسټ د تبعيض مخه نيول کېږي؛
- د کادري غړيو، اداري کارمندانو او محصلانو حقوق خوندي کېږي؛
- د دې کړنلارې پربنسټ د پوهنتون په داخل کې د شخړو او اختلافاتو حل اسانه کېږي؛
- د عدالت د منظمې کړنلارې پرمټ په علمي هڅو، څېړنو او نوښتونو کې زياتوالی رامنځته کېږي؛
- د عدالت د يوې روښانه کړنلارې پرمټ د واسطې، رشوت، زور او شخصي نفوذ مخه نيول کېږي؛
- د عدالت او شفافيت پلي کېدلو کې اسانې رامنځته کوي.

**د انصاف او عدالت کړنلارې موخې**

- د استادانو، محصلانو او اداري کارمندانو ترمنځ د اسلامي اصولو او نافذه قوانينو له مخې عدالت تأمينول؛
- د قومي، ژبني او شخصي سليقو پر اساس د هر ډول تبعيض مخنيوی؛



تم المسح الضوئي بـ CamScanner

- په پرېکړو، ارزونو، تقرر، ترفیعاتو او خدماتو کې روڼتیا رامنځته کول؛
- د واسطې، زور، رشوت او شخصي میلانونو مخنیوی؛
- د امتحاناتو، څېړنو، علمي ترفیعاتو او بورسونو په توزیع کې عادلانه معیارونه پلي کول.
- د اسلامي او اخلاقي ارزښتونو پیاوړي کول؛
- د پوهنتون د غړو ترمنځ د باور، متقابل احترام او همکارۍ فضا رامنځته کول.

**د کړنلارې د تطبیق ساحه**

دا کړنلاره په لاندې اشخاصو باندې د تطبیق وړ ده:

- د علمي کادرغړي(استادان)؛
- اداري کارمندان؛
- محصلان؛
- قراردادي اشخاص (د اړتیا پرمهال).

**د کړنلارې اساسي اصول**

- عدالت او بې‌طرفي؛
- د اسلامي شریعت او اصولو حاکمیت؛
- شفافیت او عدم تعصب؛
- د اجتماعي عدالت او انساني کرامت حمایت؛
- اصلاح او احسان.

## د انصاف او عدالت په برخه کې د لوگر پوهنتون تگلارې

د انصاف او عدالت په برخو کې لوگر پوهنتون لاندې تگلارې لري:

**۱- د بستونو د توزیع تگلاره**

**الف- د علمي کادري بستونو توزیع:** د علمي کادري بستونو توزیع د څانگو د اړتیاو د تشخیص، د محصل او استاد د تناسب کچې، د مضامینو تعداد او د استادانو له درسي مکلفیت سره د درسي ساعتونو د مطابقت په اساس رامنځته کېږي چې د پوهنتون په پلان کې درج شوي دي.

**ب- د اداري او خدماتي بستونو توزیع:** لوگر پوهنتون په ټولو پوهنځیو او څانگو کې د لوړو زده کړو وزارت له تگلارې سره سم د هغوی د اړتیا او د هر اداري واحد د کار حجم ته کتو سره اداري او خدماتي بستونه توزیع کوي او د پوهنتون په پلان کې ځای ورکوي.



تم المسح الضوئي بـ CamScanner

۲- د جذب د پروسې تګلاره

لوګر پوهنتون رهبري د جذب پروسه په جدی ډول باندې څارې او د لوړو زده‌کړو وزارت له تګلارې سره سم نوموړې پروسه په لاندې ډول ترسره کیږي:

**الف- د استادانو جذب:** د علمي کادر جذب په برخه کې لوګر پوهنتون د افغانستان اسلامي امارت د لوړو زده‌کړو وزارت د نافذه قوانینو او مقرراتو په رڼا کې د اړتیا وړ علمي کادري بستونه د لوګر پوهنتون او لوړو زده‌کړو وزارت په سایټونو کې اعلان ته سپاري او د ازاد رقابت له لارې په شفافه توګه د جذب پروسه ترسره کیږي.

**ب- د اداري کارمندانو جذب:** اداري بستونه تر څلورم بست پورې د لوګر پوهنتون او لوړو زده‌کړو وزارت په سایټونو کې اعلان ته سپارل کیږي او د ازاد رقابت له لارې په شفافه توګه د جذب پروسه بشپړیږي.

**ج- د خدماتي کارمندانو جذب:** لوګر پوهنتون کې د خدماتي کارمندانو جذب، د پوهنتون اړتیا او د هغوی فزیکي ځواک ته په کتو سره د ازاد رقابت له لارې ترسره کیږي.

**۳- د درسي ساعتونو د ویش تګلاره**

په ځانګو کې د ورځنیو درسونو وېش د استادانو د تدریسي مکلفیت له مخې او د لوړو زده‌کړو وزارت د لوایحو مطابق پرمخ ځي، د مضامینو وېش استادانو ته د هغوی د تخصص له مخې ترسره کیږي، په دې برخه کې د پوهنځي علمي شورى د عدالت له تأمین څخه نظارت کوي او متضرر استادان کولی شي چې خپل شکایت د پوهنځي له رئیس، علمي مرستیال او یا هم د پوهنتون له رئیس سره شریک کړي، یا هم په رسمي توګه د شکایاتو د اورېدنې له پالیسي سره سم خپل شکایت په لیکلي توګه د شکایاتو په صندوق کې درج کړي.

**۴- د لنډو او اوږدمهاله بورسونو د توزیع تګلاره**

لوګر پوهنتون د بورسونو د توزیع په برخه کې د پوهنتون په کچه د شفافیت او عدالت په موخه د بورسونو د توزیع کمېټه ایجاد کړې ده. له علمي کادر سره د مربوطه څانګې او پوهنځي موافقې، د نوموړي علمي کادر غړي د خدمت مودې ته په کتلو او د لوړو زده‌کړو وزارت د بورسونو د توزیع طرزالعمل له مخې بورسونو ته وړ اشخاص معرفي کوي.

**سیمینارونو او ورکشاپونو ته ورپېژندنه**

له پوهنتونه د باندې استادان، محصلان او اداري کارمندان د علمي- محصلانو چارو او اداري معاونیتونو په همغږۍ سره ورکشاپونو او سیمینارونو ته د هغوی وضعیت او شرایطو ته په کتو سره ورپېژندل کېږي. د پوهنتون داخلي ورکشاپونو او



تم المسح الضوئي بـ CamScanner

سیمینارونو ته د نیازسنجي په اساس؛ چې کوم کسان په کومو برخو کې د ظرفیت لوړولو ته اړتیا لري، همغه کسان معرفي کېږي.

**هـ د ازموینو د روڼتیا تګلاره**

لوګر پوهنتون د ازموینو د پروسې د شفافیت په موخه د هرې پوهنځي په کچه د ازموینو فرعي کمېټې او د پوهنتون په کچه عمومي کمېټه رامنځته کړې ده، د ازموینو په ورځو کې د طرزالعمل موافق د ازموینو له پروسو څخه په دوامداره توګه نظارت کوي. د هر تدریسي سېمیسټر په ترځ کې دوه ډوله ازموینې اخیستل کېږي، یوه منځنۍ ۲۰٪ او بله وروستنۍ ۶۰٪ ازموینه.

**الف. منځنۍ ازموینه:** د سمستر په اتمه اونۍ کې هر استاد مکلف دی چې له طرزالعمل سره سم د خپل مضمون شل سلنه ازموینه واخلي، د ازموینو د پایلو د شفافیت په خاطر استادان د شل سلنه ازموینې نومرې په صنف کې محصلینو ته اعلانوي، که کوم محصل په خپلو نومرو باندې معترض وي، هملته په صنف کې خپله پارچه ورته په موقت ډول سپارل کېږي، څو قناعت ترلاسه کړي.

**ب. وروستنۍ ازموینه**

د وروستنۍ ازموینو مهالوېش حتی الامکان د محصلانو په خوښه ترتیب کېږي.

د وروستنۍ ازموینو پروسه د پوهنځیو او پوهنتون په کچه د ازموینو د کمېټو له لوري هره ورځ څارل کېږي، ورځنۍ راپورونه یې د ازموینو د محلونو د ثبت په کتاب کې ثبتېږي او د محلونو لیکلی راپور یې له علمي معاونیت سره شریکېږي.

د ازموینو د پایلو له اعلان څخه وروسته دری ورځې محصل د شکایت حق لري، ترڅو په لیکلې بڼه باندې خپل اعتراض د پوهنځیو په کچه د ازموینو کمېټې ته وسپاري، د ازموینو د کمېټې له لوري د امتحاناتو د طرزالعمل موافق شکایت ته رسیده ګي کېږي.

**۶. د علمي ازادیو تګلاره**

لوګر پوهنتون د علمي ازادیو روښانه کړنلاره لري چې د هغې کړنلارې پربنسټ خپلې علمي چارې پرمخ وړي، د علمي ازادۍ د کړنلارې موافق هیڅ شخص د علمي او منطقي نظر په وړاندې کولو سره نه تهدیدېږي.



تم المسح الضوئي بـ CamScanner

**۷. د ټولنيزو اخلاقو د رعايت تګلاره**

لوګر پوهنتون د سليقوي برخورد او تعصب د مخنيوي په موخه د اخلاقي چلند منظمه روښانه کړنلاره لري، د يادې کړنلارې سره سم پوهنتون ته منسوب د هر شخص اخلاقي تخلف به د نظام د نافذه قوانينو په رڼا کې د مجازاتو وړ وي.

**۸. د شکايتونو د ارزونې تګلاره**

لوګر پوهنتون د شکايتونو د ثبت او ورته د رسيدنې روښانه کړنلاره لري چې پکې د شکايتونو د اورېدو مراجع، ورته د رسېدو لارې چارې او د شکايتونو د منلو اصول په منظم ډول بيان شوي دي، لوګر پوهنتون د يادې کړنلارې تطبيق ته ژمن دی.

**۹. د استادانو، کارمندانو او محصلانو د حاضري تګلاره**

**الف- د استادانو حاضري:** د لوړو زده کړو وزارت له کړنلارې سره سم د درسي مهالوېش، په کمېټو کې د غړيتوب، په مختلفو شوراګانو کې د ګډون او په پوهنتون کې دننه يا د باندې د نورو علمي څېړنيزو بوختياو پر اساس د استادانو حاضري تنظيمېږي.

**ب- د اداري کارمندانو حاضري:** د اداري کارمندانو حاضري له شنبې څخه تر پنجشنبې پورې د کار او ټولنيزو چارو وزارت له تګلارې سره سمه تنظيمېږي. کوم کارمند چې په خپل سر د اړوند مستقيم آمر له خبرېدو څخه پرته خپله دنده پرېږدي، غير حاضر ګڼل کېږي.

**ج- د محصلانو حاضري:** هر استاد د هر مضمون مستقله حاضري لري، محصل مکلف دی چې له درسي مهالوېش سره سم په اړوندو ساعتونو کې حتما حاضر وي، کوم محصل چې په اړوند درسي ساعت کې په صنف کې شتون نه لري، غيرحاضر ګڼل کېږي.
په وروستنۍ ازموينه کې د محصل شموليت د حاضري له مخې محاسبه کېږي چې د کرېډېټ لائحې موافق ۷۵٪ سلنه حاضري ضرور ګڼل کېږي. د استاد په حاضري کې د پوهنتون هېڅ مرجع د تغيير صلاحيت نلري.

**۱۰- د تدارکاتو تګلاره**

د پوهنتون له ټولو برخوڅخه د راټولو شويو معلوماتو پربنسټ د پوهنتون د رهبري په همغږۍ د نيازمندي پلان ترتيب کېږي، وروسته له دې د اړتياو پر اساس د ځانګړې شوې بوديجې سره سم د تدارکاتو چارې پر مخ وړل کېږي.



تم المسح الضوئي بـ CamScanner

**۱۱ـ د علمي کادر د غړیو د ترفیعاتو تګلاره**

د لوړو زده کړو وزارت د څېړنې، تالیف او ژباړې ریاست له لارښوونو سره سم د علمي ترفیعاتو لپاره د موضوعاتو ثبت په لاندې ډول ترسره کیږي:

لومړی: د مربوطه څانګې په مجلس کې د موضوع ثبتول.

دویم: د مربوطه پوهنځي د څېړنو د فرعي کمېټې په غونډه کې د موضوع تائید.

دریم: د مربوطه پوهنځي د نصاب ارزونې د کمېټې په غونډه کې د موضوع تائید.

څلورم: د پوهنځي د علمي شورى په مجلس کې د موضوع ثبت او تائید.

پنځم: د پوهنتون د نصاب ارزونې په عمومي کمېټه کې د موضوع ثبت او تائید.

شپږم: د پوهنتون د څېړنو په عمومي کمېټه کې د موضوع له ثبت او تائید څخه وروسته په رسمي توګه د استادانو د آمریت له لوري لوړو زده کړو وزارت ته لېږل کېږي.

**۱۲ـ د مجازاتو او مکافاتو تګلاره**

لوګر پوهنتون د مجازاتو او مکافاتو اصل ته ژمن دی، هغه استادان، اداري کارمندان او محصلان چې په خپلو ورسپارل شویو دندو کې متعهد او مبتکر دي، د پوهنتون د چارو د سمون او پرمختګ په موخه زیاتې مخلصانه هلې ځلې کوي، د پوهنتون رهبري د خپلو شته امکاناتو او واکونو سره سم د نوموړو اشخاصو هر ډول ملاتړ ته ژمن دی.

دغه کړنلاره د دعوت ارشاد او شکایتونو اوریدلو عمومي کمېټې په(۷)ګڼه پروتوکول او ۸/ ۱۴۰۴/۷هـ ش نېټې جلسه کې تصویب او ثبت ده.

همدارنګه د لوګر پوهنتون د علمي شورى په (۱) ګڼه پروتوکول او ۲۸/ ۱۰/۱۴۴۷هـ ش/ ۲۶/ ۰۱/ ۱۴۰۵ هـ ش، نېټې ناسته کې هم تائید شوې او د پلي کېدو وړ ده.

مولوي خلیل احمد نا[illegible]

د دعوت او ارشاد آمر او د شکایتونو اوریدلو د عمومي کمېټې مشر

پوهندوی مولوي میرویس ستانکزی

د لوګر پوهنتون د علمي او محصلانو چارو مرستیال



تم المسح الضوئي بـ CamScanner